﴿...وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ...﴾




*ژباړه: (... هغوی خپل ټول مکر وکاراوه....) نو څه باید وکړو؟*

(ژباړه)

هغه خوځښت چې له تونسه پیل او مصر، لیبیا، یمن او د شام خاورې ته ورسېد، د اسلامي امت د واحد عمل څرګنده نښه ده. امت د هغو ټو اقدامونو او ناوړه سیاستونو پر وړاندې ودرېد چې د غربي ښکېلاګرو کفارو په ملاتړ مزدورو دولتونو درلود؛ هغه سیاستونه چې د امت لاسونه او وزرونه یې تړلي او د بیدارۍ او عزت د بیا راتګ لپاره یې خنډ شوي وو. دا هغه سیاستونه وو چې امت یې د غرب په لومو کې ښکېل کړی او د دوی د پانګو، سرچینو او تولید لوټلو لامل دي. امت له لویو جمعیتونو سره د دولتونو پر وړاندې ودرېد او لوی لاریونونه یې پیل کړل. په پیل کې داسې انګېرل کېده چې د امت غوښتنې یوازې د ظالمو دولتونو پر سیاستونو نیوکه ده او دا یوازې د خلکو د راټولېدو دلیل دی، تر هغې چې خلکو ته څرګنده شوه چې امت د خپل هویت پیدا کېدو په لټه کې دی. دا هم څرګنده شوه چې امت ذلت پرېښود او نور د ښکېلاک او مزدورو دولتونو سیاستونو ته نه تسلیمېږي او د خپل رښتیني هویت په لټه کې دی، چې اسلامي هویت بلل کېږي.

د خلکو دغه خوځښتونه او له حالت سره تفاعل هره ورځ ډېرېده. که څه هم سرښندنې ډېرېدې، خو د دوی غوښتنې مخ پورته روانې وې. پر همدغه بنسټ غربي کافرانو دغه حالت په وحشت بدل کړ او له کینه‌ګرو جنایتکارانو سره یې یو ځای ډول ډول عذابونه، لکه وژل، بندي کول او د هغې موخې د مخنیوي لپاره هڅې پیل کړې، چې امت یې د تر لاسه کولو په لټه کې و.

غربي دولتونو هره دروازه وټکوله، ډېر کنفرانسونه یې ونیول، ډول ډول دسیسې یې جوړې کړې، نقشې یې برابرې کړې، اسلامي امت ته یې دامونه کېښودل، ډېرې ناستې او سازمانونه یې تشکېل کړل، تر څو امت له دغې موخې وګرځوي؛ ځکه دغو خوځښتونو په اسلامي خاورو کې د غربي دولتونو نفوذ له ګواښ سره مخ کاوه؛ تر دې چې د عربي پسرلي د انقلابیانو مهارول یې پیل کړل. دغه انقلاب یې له بنسټیزې موخې په شا کړ، د هغې موخې لپاره یې هڅې پیل کړې چې د جنایتکارو ظالمانو پر وړاندې یې کولې او هغه ظالمان چې اسلامي امت یې له وژلو، ویجاړۍ او ورانۍ سره مخ کړی او د ژوند ترخه عذابونه یې پرې څکلي وو.

هو، د هغه څه دلیل چې جنایت کوونکي غرب ته یې د دې موکه ورکړه چې د عربي پسرلي انقلاب له خپلې بنسټیزې موخې وګرځوي، د الله سبحانه وتعالی د کتاب او رسول الله صلی الله علیه د سنتو پر بنسټ د برنامې نشت و؛ هغه برنامه چې د امت له بنسټیزې عقیدې یې سرچینه اخیستې وه او امت د هغه څه لپاره تل قرباني ورکړې چې د الله سبحانه وتعالی د شریعت حاکمولو له لارې یې خپل عزت تر لاسه کولو ته رساوه؛ خو دغو انقلابیانو داسې برنامه نه درلوده. د انقلابیانو د انحراف یو بل لامل دا و چې د انقلاب لپاره ځانګړي ضوابط نه وو ټاکل شوي. د بېلګې په توګه، انقلابیانو د یوې عملي تګلارې پر بنسټ عمل نه کاوه او د هغې تګلارې لپاره یې چې امت په ربښتینې توګه ګام کېږدي، هېڅ لارښوونه نه وه ټاکلې او امت یې همدې بنسټیزې موخې ته د رسېدو لپاره نه و ډاډمن کړی، چې د همدغو ارزښتونو لپاره قرباني ورکړي. د انقلاب د ضوابطو د تصویب او د دغه ډول پرګرام نشت هغه څه وو چې جنایتکار غرب پر دې وتوانېد چې انقلاب په تونس، لیبیا، مصر او یمن کې نسکور کړي او امت د ناوړه نظامونو په لومو کې ښکېل کړي؛ هغه نظامونه چې د الله سبحانه وتعالی شریعت پکې تر پښو لاندې شوی او د هغو دعوتګرو پر وړاندې جګړه کوي چې د الله سبحانه وتعالی شریعت پلې کول غواړي.

د غرب له سیوري بهر لوی لاریونونه او د پیاوړو شعارونو په دلیل د شام سپېڅلي انقلاب موخه تر نورو انقلابونو څرګنده وه او غرب د دغه انقلاب له منځه وړلو او خنډ سره مخ کولو لپاره تر هرڅه ډېرې هڅې کړې دي.

د دغه انقلاب شعارونه دا وو: « یا الله ما لنا غیرك یا الله (اې الله سبحانه وتعالی! له تا پرته نور څه نه غواړو)، لن نرکع إلا لله (له الله سبحانه وتعالی پرته هېچا ته نه یو تسلیم شوي.)، وهي لله هي لله لا للسلطة ولا للجاه (زموږ غوښتنه یوازې د الله سبحانه وتعالی رضا ده، نه قدرت او څوکۍ). پر دغو شعارونو سربېره ډېر نور شعارونه هم ورکول کېدل، چې موخه یې ښه څرګندوله؛ لکه: « قائدنا للأبد سیدنا محمد (زموږ رهبر د تل لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم دی)، الشعب یرید خلافة إسلامیة (خلک اسلامي خلافت غواړي)، و في بلدي قد نطق الحجر لا أرید سوی عمر (زموږ په خاوره کې حتی تیږې هم له عمر پرته بل کس نه غواړي.)»

دغه ځواک چې کوم شعارونه ورکول او هغه لوی خوځښتونه یې چې پیل کړي وو، نړۍ یې حیرانه کړې وه او موږ لیده چې نړۍ په دې برخه کې لار ورکې او ګډوډه ده؛ تر دې چې امریکا د دغه انقلاب د ماتولو او له منځه وړلو لپاره سیمه ییز دولتونه په دوو ډلو ووېشل. ځینو دولتونو یوازې مرسته کوله، چې د انقلابیانو پر وړاندې یې ګواښوونکی رول ولوباوه. د بېلګې په توګه: ترکیه، قطر، سعودي او یو شمېر نور سیمه ییز هېوادونه لکه ایران او په لبنان او سوریه کې د ایران حزب، چې دنده یې د شام وژنه، ظلم او جنایت و. په ځانګړي ډول وروسته له هغه چې انقلاب پر دې ونه توانېد چې د شام د خاورې لویه برخه ازاده کړي او د دمشق دروازو ته ورسېږي؛ هغه ځای چې جنایتکارې مزدورې امریکا ځان هلته پټ کړی و. هغه څه چې ایراني او امریکایي چارواکو هم اعتراف پرې وکړ او وروستۍ څرګندونې یې دا دي چې څه وخت وړاندې لاروف وکړې: «پر تندلارو د باور په وسیله له بهر څخه د نظام بدلون په بشپړه توګه یوه نابریالۍ هڅه وه. نېږدې و چې سوریه سره وپاشل شي او تروریستي خلافت په دغه خاوره کې تاسیس شي، تر دې چې د سوریې د دولت په غوښتنه د مرستې او د استانې د ناستو په چوکاټ کې د ډیپلوماسۍ اقدامونو پر بنسټ روسیې په اغېزمن ډول د دغې وژونکې سناریو مخه ونیوله.»

د شام انقلاب پرمختګونو امریکا له داسې وېرې سره مخ کړې وه چې د انقلابیانو د بېلارې کولو لپاره یې له هر ډول کنفرانسونو او برنامو جوړلو څخه دریغ ونه کړ او دغه دسیسې د هغې ماتې لامل شوې چې د امریکا ولسمشر یې دې ته اړ کړ چې د سپینې ماڼۍ له پرېښودو وړاندې څرګندونې وکړي: «د وېښتانو ډېره برخه مې د شام د انقلاب په اړه ناستو سپینه کړه.» همدارنګه د امریکا د بهرنیو چارو پخواني وزیر جان کیري ورته څرګندونې وکړې، نوموړي وویل: «د ډیپلوماسۍ

د ژوند په اوږدو کې يې داسې دوسيه نه وه ليدلې لکه د سوريې.» هو، دغه موارد د شام د انقلاب د قوت نښه په ډاګه کوي.

د شام د انقلاب منحرفولو لپاره د غرب د مديريت نقشه دا وه چې انقلاب له ولسي کېدو څخه په سياسي څېرو او بې شمېره نظامي ډلو بدل کړي، تر څو يې انحراف او مديريت ورته اسانه شي. پر همدغه بنسټ، غرب خپل مزدوران راټول کړل او د ډلو مشران يې په ککړو سياسي پيسو واخيستل؛ په بدل کې يې د دوی هوډونه تر لاسه کړل. هغوی يې جوړو شوو اوربندونو او خبرو ته اړ کړل، تر څو نظام له نسکورېدو وژغوري او انقلابيان د شخړو کمېدو تر نامه لاندې دسيسو منلو ته اړ کړي؛ چې د همدې په وسيله د انقلابيونو تر واکمنی لاندې سيمې جنايتکار نظام ته تسليم کړي. په همدې وسيله يې د مرګ پر پوله نظام د امبولانس په مرسته وژغوره، د پلازمېنې شاوخوا يې امن کړه، ګوابنونه يې ترې لېرې کړل او انقلاب يې په لېرې سيمو کې کلابند کړ.

يوازې حزب التحرير هغه رهبري ده چې تګلاره يې سمه ده او څوک چې باور وربانديې وکړي، هېڅ وخت به زيان ونه کړي. د شام د انقلاب د پيل په اړه يې د غرب د دوکې او فريب په اړه انقلابيانو ته ګواښ کړی و. امت ته يې هغه نصيحت و چې عزت تر لاسه کولو ته ترې وو او په ټول زړه سوي يې هغوی ته نصيحت کاوه. هغه ټولې ستونزې چې د شام انقلاب ورسره مخ شو، د غرب د دسيسو په ښکاره کولو کې حزب التحرير هم ورسره مخ شو. يوه سياسي رهبری يې ورته وړاندې کړه، چې برنامه يې د اسلامي امت له عقيدې او د الله سبحانه وتعالی له کتاب او د رسول لله صلی الله عليه وسلم له سنتو اخيستل شوې. دغه برنامه يې د شام د انقلاب سياسي فعالانو، استازو، د ډلو متنفذينو ته وړاندې کړه. پر همدې يې بسنه ونه کړه، بلکې تل يې په ځانګړو ضوابطو ټينګار کاوه، چې پر بنسټ يې انقلاب خپله تګلاره بشپړه کړي او د الله سبحانه وتعالی په خوښی سره امن او سولې ته ورسېږي. لوی لاريونونه او کمپيانونه يې پيل کړل او امت ته يې نصيحت کاوه، تر څو دغه ضوابط د خپلې موخې لپاره د بنسټ په توګه ومني.

حزب التحرير له انقلابه غوښتل چې د نظام له سقوط او رېښو له منځه وړلو پرته بل څه ونه مني او خپلې مبارزې د دمشق، مرګاګاه لور ته وخوځوي. له دغو مزدورو دولتونو سره خپلې اړيکې پرې کړي او د نفوذ مخه يې ونيسي، په ځانګړې ډول هغه چټلې پيسې او مرستې چې د ډلو هوډونه يې مات او هغوی يې د نظام له نسکورېدو په خپلو ځايونو کې وساتل. د دغو چټلو پيسو يوازنی رول د ملاترو خوښې او د نورو انقلابي ډلو پر لور د جګړې د جهت بدلون و.

هو، د يو سياسي نظام په توګه د اسلام له منلو پرته چې پر اسلامي امت حکومت کوي او د نبوت پر تګلاره د خلافت په تاسيس سره زموږ سربښندنې نه بې ځايه کېږي او د هغو مورګانو د زامنو قاتلينو ته سزا ورکول کېږي چې بې ګناه يې وژني. هغه کسان چې خپل کورنه يې د غرب په دوکو او چلونو سره وران کړي، د شام خلک له هغې برنامې پرته چې حزب التحرير يې وړاندې کوي، بله حل لاره نه لري؛ د هغې برنامې موخه تر لاسه کوي، چې امت يې د لاسه ته راوړو لپاره تر ټولو غوره سربښندنې ورکړې دي.

**ليکوال: استاد محمد الحمصي ابوذر**

**۱۴۴۰، د صفر ۱۴مه**

**۲۰۱۸م، د اکتوبر ۲۴مه**

**ژباړه: بهير «وياړ»**